# څوک چې د سهار لمونځ وکړي هغه د الله جل جلاله په ساتنه (ذمه) کې دی

له جندب بن عبدالله القسري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: "څوک چې د سهار لمونځ وکړي هغه د الله جل جلاله په ساتنه (ذمه) کې دی، نو الله تعالی دې له تاسو څخه د هغه د ذمې په اړه د څه شي غوښتنه ونه کړي، ځکه چې يقينا که چېرته الله تعالی د چا سره د خپلې ذمې په اړه حساب وکړ نو راګير به يې کړي، بيا به يې پړمخه د جنهم په اور کې وغورځوي".
[صحيح] [مسلم روايت کړی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک د سهار لمونځ اداء کړي نو هغه د الله په حفاظت، ساتنه او ملاتړ کې دی، د هغه دفاع کوي او هغه برلاسی کوي. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې عهد د ماتولو په اړه خبرداری ورکړ چې ( د دې تړون ماتول خو ) يا د سهار د لمانځه په پرېښودلو سره کيږي او يا د سهار په لمونځ کوونکو باندې په راوتلو او بريد کولو سره، نو يقينا چې چا دا کار وکړ نو دا ګاونډېتوب يې مات کړ او د سختې سزا مستحق شو، چې الله تعالی به ترې د هغه په حق کې د غفلت په اړه پوښتنه وکړي، او الله تعالی چې د چا پسې شو نو راګير به يې کړي، بيا به يې پړمخه په اور کې واچوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5435